# دا د حق خبره د پیرۍ لخوا په پټه نیول کیږي او د چرګ د کړارۍ په څیر یې د خپل بادار په غوږ کې اچوي، نو هغه ورسره بیا سل دروغ ویناوې ګډې کړي

له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایې چې: خلکو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د غیب ویونکو په اړه پوښتنه وکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: (هغوی هېڅ ندي) هغوی وویل: اې د الله جل جلاله رسوله، هغوی کله د یو څه په اړه خبرې کوي چې وروسته حقیقت وي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:" دا د حق خبره د پیرۍ لخوا په پټه نیول کیږي او د چرګ د کړارۍ په څیر یې د خپل بادار په غوږ کې اچوي، نو هغه ورسره بیا سل دروغ ویناوې ګډې کړي".

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغو خلکو په اړه پوښتنه وشوه چې په راتلونکې کې د غیبو په اړه وړاندوینه کوي، نو هغه وفرمایل: پروا یې مه ساتئ، او خبرې یې مه اخلئ، او د هغوی چارې دې تاسو اندېښمن نه کړي. نو هغوی وویل: د دوی خبره کله کله له حقیقت سره مطابقت لري، لکه څنګه چې دوی په فلان مياشت، فلان ورځ کې د یوې غیبي پېښې په اړه خبر ورکوي، نو د دوی له وینا سره سم واقع کیږي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پیریان چې د اسمان له خبرونو څخه څه واوري هغه غلا کړي، بیا له غیب ویونکو څخه خپلو بادارانو ته د هغه څه په اړه خبر ورکړي چې اورېدلي یې دي، غیب ویونکی له اسمان څخه اورېدل شوو ویناوو ته سل نور دروغ ورزیات کړي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee